# دِمعراج مُعجزے

11-March-2021

هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د مِعراج مُعجزے

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله		وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله		وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

**نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ** (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر خو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدلو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## په پريشان حاله باندې كرم اوشو

يو ځل د فرښتو سردار حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلام د اِمامُ الانبياء صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې حاضر شو او عرض ئې اوكړو: **يا رَسُولَ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! نن زه اِتّفاقاً كوهِ قاف ته لاړم، ما هلته د ژړا او چغو آوازونه واوريدل، د كوم ځائے نه چې آوازونه راتلل، زه هغه طرف ته لاړم: يوه فرښته چې په آسمانونو كښې به په عِزَّت او احترام سره په نوراني تخت ناسته وه، اويا زره فرښتے به د هغې نه چاپيره په صف كښې ولاړې وے، چې كله به هغې ساه اخستله نو **الله** پاك به د هغې د هغه ساه په بدله كښې يوه

فرښته پيدا كوله خو نن هغه فرښته د كوهِ قاف په دَره كښې پريشان حاله موجوده وه او ژړا فرياد ئې كولو، ما ترينه تپوس اوكړو: څه حال دے؟ ستا سره څه مُعامَله شوې ده؟ هغه فرښتے اووئيل چې: د معراج په شپه چې كله د **الله** پاك خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما په خوا تيريدلو نو ما د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعظيم و تكريم پرواه اونكړه، **الله** پاك ته زما دا خبره خوښه نه شوه، ما ته د هغې سزا راكړے شوه او د آسمانونو نه دلته راكوز كړے شوم. بيا هغه فرښتے ما ته درخواست اوكړو: اے جبريل! د **الله** پاك په بارګاه كښې زما سفارش اوكړئ چې **الله** پاك زما خطا مُعاف كړي.

يـا رسُـولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما د **الله** پاك په بارګاه كښې په ډيره عاجزئ د هغې [فرښتے] د مُعافئ درخواست اوكړو نو ارشاد اوشو: اے جبريل! دې فرښتے ته اووايه چې! كه دا مُعافي غواړي نو زما په خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دِ دُرود شريف اولولي.

يـا رسُـولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما چې خنكه هغه فرښتے ته دا اووئيل، هغه فوراً په تاسو باندې دُرُودشريف لوستلو كښې مشغوله شوه نو ناڅاپه ئې وزرې او بڼرې راختل شروع شو او لاړه آسمانونو طرف ته اوچته شوه. (1)

دُکھوں نے تم کو جو گھیرا ہو تو درود پڑھو! | جو حاضری کی تمنا ہو تو درود پڑھو!

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ** (يعني) رښتينے نِيَّت د

[1]... جامع صَغِير، صفحه: 557، حديث: 9326۔

ټولو نه افضل عمل دے.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو:

نِيَّت اوكړئ چې، ❁ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❁ چې څومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې ] كښينم ❁ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو هم نيت اوكړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! نن د رَجَبُ الْمُرَجَّب ووه وِيشتمه [27 واں] شپه ده، دا هُم هغه مباركه شپه ده په كومه شپه چې جَنَّت ښائسته كړے شو، په هُم دې شپه په عرش باندې خوشحالئ شوے، په هُم دې شپه په زمكه انوار را وريدلي وو، په هُم دې شپه حُور و غِلمان او فرښتے زمونږ د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د استقبال د پاره په صفونو كښې ولاړې وے، په هُم دې شپه اللّٰه پاك په خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د عرش و كرسئ سيل كړے وو، جَنَّت ئې ورښودلے وو، سِدرَةُ الْمُنْتَهٰى او لا مكان ته، بيا د هغې نه وړاندې ئې خپل خاص قُرب ته بللے وو، په خپل مينځ كښې د خبرو كولو شرف ئې ورعطا كړے وو او سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عين د بيدارئ په حالت كښې د سر په سترګو د اللّٰه پاك ديدار هم كړے وو.

ہیں صَفْ آراء سب حُور و مَلک اور غِلماں خُلد سجاتے ہیں

---

[1]...جامع صغیر، صفحہ:81، حدیث:1284۔

اِک دُھوم ہے عرشِ اعظم پر مہمان خدا کے آتے ہیں
ہے آج فلک روشن روشن، ہیں تارے بھی جگمگ جگمگ
محبوب خُدا کے آتے ہیں، محبوب خُدا کے آتے ہیں
ہے خُلْد کا جوڑا زیبِ بدن، رَحْمت کا سجا سہرا سَر پر
کیا خوب سُہانا ہے منظر، معراج کو دولہا جاتے ہیں
یہ عِز و جلال اللہ! اللہ!، یہ اَوْج وکمال اللہ! اللہ!
یہ حُسْن وجمال اللہ! اللہ! معراج کو دولہا جاتے ہیں
وہ کیسا حسین منظر ہو گا، جب دولہا بنا سرور ہو گا
عُشّاق تَصَوُّر کر کر کے بَس روتے ہی رہ جاتے ہیں
اللہ کی رحمت سے سرور جا پہنچے دَنا کی منزل پر
اللہ کا جلوہ بھی دیکھا، دیدار کی لذّت پاتے ہیں
معْراج کی شب تو یاد رکھا، پھر حشر میں کیسے بھُولیں گے
عطّار اسی اُمید پہ ہم دِن اپنے گُزارے جاتے ہیں
(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د واقعۀ معراج خلاصه

تقريباً د 1442 کالو وړاندې خبره ده، د رَجَبُ الْمُرَجَّب ووه وِيشتمه شپه او د شپې آخرۍ حِصَّه وه، حُضُور سَيِّدِ عالَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل تره لُور حضرت اُمِّ هاني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا په کور کښې آرام فرما وو، ناڅاپه حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام بُراق (نومې جَنَّتې سورلۍ) او د

---

[1]...وسائل بخشش، صفحہ:286۔

فرښتو جنج راوستلو او حاضر شو، د **اللّٰه** پاک پيغام ئې راوړو، خپلې کافورې [خوشبودارې] وَزرې ئې د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښپو مبارکو تَلو سره مَس کړې [يعني اولګولې] او نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې را بيدار کړلو او د **اللّٰه** پيغام ئې ورته بيان کړلو، د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سِينے مبارکې نه ئې زړه مبارک راويستلو، په آبِ زَم زَم ئې اُووِينځلو، بيا ئې مبارکه سِينه د حِکمت او نور نه ډکه کړه، بيا ئې په آبِ کوثر غسل ورکړو، خوږ رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې د معراج ناوک جوړ کړلو، جنتي لباس ئې ور واغوستلو، بُراق ئې حاضر کړو، هغه بُراق ډير تيز رفتاره وو، د هغې تيز رفتارې د عقل نه بهر وه:

*تھا بُراقِ نبی یا کہ نُورِ نظر* | *یہ گیا، وہ گیا اور نہاں ہو گیا*

حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د بُراق جِيلَب اونيولو، اسرافيل عَلَيْهِ السَّلَام وريسې شولو، فرښتے د بُراق نه چار چاپيره شوے، په دې شان د سَروَرِ کائنات صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سورلئ د مکے مکرمے نه روانه شوه، په ډير لږ ساعت کښې بَيتُ المُقَدَّس ته اورسيدلو، په بَيتُ المُقَدَّس کښې ټول انبياء، رسولان او فرښتے د استقبال د پاره موجود وو، د لَمانځه تياري وه، بس د امام انتظار وو.

**اللّٰه! اللّٰه!** څومره ښکلے شان دے زمونږ د خوږ آقا مکي مدني **مُحَمَّدِ** مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم---!! نن د نُبُوَّت هغه ځليدونکو ستورو چې د هغوئي له وجهې په جهان کښې رنړا خوره وه، د رسالت د باغ هغه خوشبودارو ګُلونو يعنې ټولو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام صفونه جوړ کړي دي او زمونږ د خوږ آقا تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ ختمِ نُبُوَّت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اقتداء کښې د لمونځ ادا کولو په انتظار کښې دي. رښتينې عاشقِ رسول، امامِ اهلِسُنَّت شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه څه ښکلې فرمائي:

*سب سے اوّل سب سے آخر ابتدا ہو انتہا ہو*

تھے وسیلے سب نبی تم اصل مقصودِ ہُدیٰ ہو
قُرب حق کی منزلیں تھے تم سفر کا منتہیٰ ہو
سب کی ہے تم تک رسائی بارگہ تک تم رسا ہو [1]

**د شعرونو وضاحت:** يارسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! اوّل نبـي هم تاسو ئې او آخري نبـي هم تاسو ئې، په انبياؤ عَلَيْهِمُ السَّلَام كښې هُم تاسو وړومبے ئې او هُم تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آخرے ئې يعني په تاسو باندې نبوت ختم شوے دے، تير شوي انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام ټول د هدايت ذريعه وو، تاسو د هدايت اصل مقصود ئې، تير شوي انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام د قُربِ اِلٰهي د لارې منزلونه وو، تاسو د دغه لارې انتهاء ئې، ټول تاسو ته در رسيږي او ستاسو رسيدل **الله** پاك ته دي.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**اے عاشقانِ رسول!** انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام د امام انتظار كولو، څنګه چې د معراج د سروَر رسولِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سورلئ را اورسيدله، ټولو ئې زبردست استقبال اوكړو، ټول انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام او فرښتے مقتديان جوړ شو صفونه ئې جوړ كړل او شا ته اودريدل، حُضُورِ انوَر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د امامت مُصَلّے ته تشريف راوړلو، **سُبْحٰنَ الله** څه ښكلے لمُونځ دے، وړومبئ قبله مسجدِ اقصٰی د لمَانځه ځائے دے، فرښتے مُؤَذِّن دي، جبريلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام تكبير وائي، انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام مقتديان دي او اِمامُ الانبياء، شَهَنشاهِ دوعالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِمامت كوي.

نمازِ اَقصیٰ میں تھا یہی سِرّ، عیاں ہوں معنیٔ اَوّل، آخر
کہ دَست بَستہ ہیں پیچھے حاضِر جو سلطنت آگے کر گئے تھے [2]

---

[1] ...حدائق بخشش، صفحه:342341۔
[2] ...حدائق بخشش، صفحہ:232۔

**د شعر مفهوم:** يعني د حضور نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مسجدِ اَقصٰی كښې تيرو انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ته د لـمانځه جَمعه وركولو كښې دا راز پټ وو چې د **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اَوَّل او آخر كيدل واضحه شي-

د دغه لمَانځه نه د فارغه كيدلو نه پس د آسمانونو تياري وه، هم هغه بُراق، هغه جنج، هغه سروَرِ كائنات صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، د ستركې په رپ كښې وړومبے آسمان راغے، حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ئې استقبال اوكړو، بيا يو نه پس بل آسمان راتلل او تيريدل، په دويم آسمان حضرت يحيٰي او عيسٰی عَلَيْهِمَا السَّلَام ، په دريم آسمان حضرت يوسُف عَلَيْهِ السَّلَام، په څلورم آسمان حضرت اِدريس عَلَيْهِ السَّلَام، په پينځم آسمان حضرت هارون عَلَيْهِ السَّلَام، په شپږم آسمان حضرت مُوسٰی عَلَيْهِ السَّلَام او په ووم آسمان حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د حُضُور نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم استقبال اوكړو او د ديدار نه مشَرَّفه شول. د آسمانونو نه چې تير شولو نو مخكښې **سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰی** راغله، بيا دا حال وو چې

بَفَوْرِ صَدا، سَماں يہ بندھا، يہ سدرہ اُٹھا، وہ عرش جھکا
صفوفِ سماء نے سجدہ کیا، ہوئی جو اذاں تمہارے لئے (1)

**د شعر مفهوم:** د معراج په شپه چې كله زمونږه د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشريف راوړلو اعلان اوشو نو **سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰی** د خوشحالئ نه د خپل ځائے نه اودريدله، عرشِ مُعَلّٰی د استقبال د پاره ټِيټ شو او فرښتے په سجدۀ شُكر كښې پريوتلې-

**سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰی** ته چې اورسيدلو نو حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د وړاندې تللو نه معذرت اوكړو، خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: جبريل! د لارې د ملګرتيا دا طريقه نه ده چې په لاره كښې دِ ملګرتيا پريښودے شي. جبريل عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوكړو:

---

1...حدائق بخشش، صفحہ: 235-

جبریل ٹھہر کر سدرہ پر بولے جو بڑھے ہم ایک قدم
جل جائیں گے سارے بال و پَر اب ہم تو یہیں رہ جاتے ہیں (1)

يعني يارسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! که د دې ځائے نه يو قدم هُم وړاندې شوم نو د انوار و تجلياتو نه به زما وزرې اُوسوزي. بس زما هُم دا آخري حد دے.

بيا د هغه ځائے نه وړاندې تاجدارِ رسالَت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د كوم ځائے پورې تشريف يوړلو، د دې مكمل تفصيل **الله** پاک او د هغه رسول (صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته معلوم دے.

الله پاك خپل محبوب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته څه ورکړل، محبوب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل **ربّ** تعالیٰ نه څه واخستل، الله پاك څه اوفرمائيل، محبوب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څه واوريدل، د حبيب و محبوب، طالب و مطلوب په مينځ کښې څه راز و نياز اوشو، دا هم د **الله** او د هغه رسول (صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته معلوم دي، قرآنِ كريم هُم دا راز نه دے ښکاره کړے بلکه فرمائی:

| | |
|---|---|
| فَاَوْحٰۤى اِلٰى عَبْدِهٖ مَاۤ اَوْحٰى ﴿۱۰﴾ (پارہ27، سورۃالنجم:10) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان : پس وحي اوفرمائيله خپل بنده ته كومه وحي ئې چې اوفرمائيله. |

خو! دومره معلومه ده چې هلته د ګنهګار اُمَّت ذِكر هُم شوے وو او اُمَّت ته په شپه او ورځ کښې د معراج [يعني د لمانځه] نِعمَت وركولو د پاره او **الله** پاك په خپله بارګاه کښې حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته بيا بيا د حاضريدلو شرف وركولو د پاره، او بيا بيا دا موقع وركولو د پاره چې د خپل زړه ارمانونه عرض کړي، **الله** پاك د 50 لمُونځونو تُحفه ورکړه، چې بيرته ئې تشريف راوړلو نو د حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام په عرض باندې د

---

1...وسائل بخشش، صفحہ:288-

لــمونځونو کمولو د پاره بیا بیا د خپل **ربّ** تعالیٰ په بارګاه کښې حاضر شولو او په پینځه پینځه کمولو صرف پینځه پاتې شو. **معلومه شوه چې لمُونځ د سفرِ معراج ډیره خوږه تحفه ده.**

## اُمَّتِ مُصطفٰی سره د موسٰی عَلَیْہِ السَّلام همدردي

د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: **الله** پاك زما په اُمَّت 50 لمُونځونه فرض کړي وو. چې کله زه د موسٰی عَلَیْہِ السَّلام خوا ته بیرته راغلم نو موسٰی عَلَیْہِ السَّلام رانه تپوس اوکړو چې **الله** پاك ستاسو په اُمَّت څه فرض کړي دي؟ ما هغوئی ته اووئیل چې **الله** پاك په ما باندې 50 لمُونځونه فرض کړي دي، نو هغوئي اووئیل: تاسو د خپل **ربّ** خوا ته لاړ شئ، ستاسو اُمَّت دومره طاقت نه لري. زه د **الله** پاك خوا ته بیرته ورغلم نو د هغه 50 نه څه حصه کمه کړے شوه. چې کله د موسٰی عَلَیْہِ السَّلام خوا ته بیرته راغلم، نو هغوئي زه بیرته اولیږلم، **الله** پاك اوفرمائیل: ښه 5 شو او د 50 قائم مقام دي ځکه چې زما قول نه بدلیږي. زه د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلام خوا ته بیرته راغلم، هغوئي اووئیل: بیا د **الله** پاك خوا ته لاړ شئ. ما جواب ورکړو: ما ته خو نور د خپل ربّ نه حیاء محسوسیږي.[(1)]

حضرت سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: په سرورِکائنات صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د معراج په شپه 50 لمُونځونه فرض کړے شوي وو، بیا کم کړے شو، تر دې چې 5 پاتې شو، بیا غږ اوشو: اے محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زمونږ خبره نه بدلیږي او ستاسو د پاره د دې پینځَوُ په بدله کښې د پنځوسو ثواب دے.[(2)]

---

[1]...ابن ماجه، کتاب اِقَامَةُ الصَّلاة، صفحه:226، حدیث:1399۔

[2]...ترمذی، ابواب الصلاة، صفحه:70، حدیث:213۔

**اے عاشقانِ رسول!** تاسو اوليدل چې حضرت سَيِّدُنا مُوسٰی کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د خپل وفاتِ ظاهري نه دوه نيم زره کاله پس د مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت دا مدد اوفرمائيلو چې د معراج په شپه ئې د 50 لمُونځونو په ځائے پينځه مقرر کړل. **الله** پاك ته معلومه وه چې لمُونځونه به پينځه پاتې کيږی خو پنځوس ئې مقرر کړل بيا ئې د خپلو دوو ګرانو هستيانو په ذريعه پينځه مقرر کړل. دلته د مزے خبره دا ده چې کوم خلق د شيطان په وسوسو کښې اخته دي او د وفات نه پس د وفات شوي کس د مدد او تعاون نه انکار کوي هغه هم پنځوس نه بلکه پينځه لمُونځونه ادا کوي حالانکه د پينځَو لمُونځونو په مقرر کيدلو کښې يقيني طور د غيرُ الله مدد او هغه هم د وفات نه پس مدد شامل دے.

جنت میں نرم نرم بچھونوں کے تخت پر | آرام سے بٹھائے گی اے بھائیو! نماز
دربارِ مصطفٰے میں تمہیں لے کے جائے گی | خالق سے بخشوائے گی اے بھائیو! نماز
پڑھ کر نماز ساتھ لو سامانِ آخرت | محشر میں کام آئے گی اے بھائیو! نماز

په تخت به مو جَنَّت کښې د نرمو بسترو | په آرام سره کښينوي اے وروره دغه مونځ
دربارِ مُصطَفیٰ ته به مو بوځي دغه مونځ | په الله به مو اوبخښي اے وروره دغه مونځ
اوکړئ مونځونه، يوسئ ځان سره ډير ثوابونه | محشر کښې به پکار راځي اے وروره دغه مونځ

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** خوشحاله شئ چې د معراج په شپه د **الله** پاك آخري نبـي، مکِّـی مَدَنـی تاجدار ﷺ مونږ ګنهګاران هُم نه يُو هير کړي، زمونږه د ګناهونو د بخښنې خوشخبري او دا وعده ئې ځان سره راوړه چې **الله** پاك فرمائي: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د ټولو اُمَّتونو نه مخکښې به ستاسو اُمَّت جَنَّت ته داخليږي. **سُبْحٰنَ الله**

**اے عاشقانِ رَسُول!** په دې سفر کښې اِمامُ الانبياء صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جنت او دوزخ سيل اوکړو، د جنتي محلونو او باغونو مشاهده ئې اوکړه او د دوزخ عذابونه ئې هم

اوليدل. [1] په دُنيا كښې صرف يو څو منټونه تير شوي وو، بستره مبارك ئې لا هُم دغسې ګرمه وه، د دروازے زنځير هُم هغسې رپيدلو او زمونږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره اوګږد سفر اوكړو، ډير مشاهدات ئې اوكړل او بيرته ئې هُم تشريف راوړو.

ہیں عرشِ بَریں پر جَلوہ فگن محبوبِ خُدا سُبْحٰنَ اللہ!
اِک بار ہُوا دِیدار جسے سَو بار کہا سُبْحٰنَ اللہ!
حیران ہوئے بَرْق اور نظر اِک آن ہے اور برسوں کا سفر
راکِب نے کہا اَللہُ غَنی مَرکَبْ نے کہا سُبْحٰنَ اللہ!
طالِب کا پتہ مَطْلُوب کو ہے مَطْلُوب ہے طالِب سے واقِف
پَردے میں بُلا کر مِل بھی لئے پَردہ بھی رَہا سُبْحٰنَ اللہ!
ہے عَبْد کہاں معبود کہاں مِعْرَاج کی شب ہے رازِ نِہاں
دو نُور حجابِ نُور میں تھے خود ربّ نے کہا سُبْحٰنَ اللہ!
جب سجدے کی آخری حدوں تک جا پہنچا عُبُودِیَّت والا
خالِق نے کہا مَاشَآءَاللہ حضرت نے کہا سُبْحٰنَ اللہ!
سمجھے حامِدؔ اِنسان ہی کیا یہ راز ہیں حُسن و اُلفَت کے
خالِق کا حَبِیْبی کہنا تھا خَلقت نے کہا سُبْحٰنَ اللہ! [2]

د الله عنايت مرحبا د مِعراج عظمت مرحبا
د بُراق قسمت مرحبا د بُراق سُرعَت مرحبا
د اَقصیٰ شوكت مرحبا د نبيانو امامت مرحبا

---

[1] ...مَوَاعِظِ نعیمیه، صفحه:86۔
[2] ...بیاضِ پاک، صفحہ:33-

| | | | |
|---|---|---|---|
| د آقا رِفعت | مرحبا | د آسمان سياحت | مرحبا |
| د الله عنايت | مرحبا | د مِعراج عظمت | مرحبا |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غيرمُسلمه قبولِ اسلام

روايت دے چې د سفرِ معراج نه پس صبا له سرکارِ دوعالَم د کور نه بهر تشريف راوړو نو يوه وينزه ئې اوليدله چې په اوګه ئې د وړو تيلئ وه او ژاړي، غمخوار نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې ژړا برداشت نه کړه، نِزدې ورغلو او د ژړا د سبب تپوس ئې ترينه اوکړلو، هغې خواږې غمژنې په ژړا کښې اووئيل: زه د فلانکي غير مسلمه وينزه يم، زما مالك زه د دانو وړه کولو د پاره ميچنې ته ليږلې ووم، زه بيماره يم، تللے نه شم، ځکه راباندې ناوخته شو، اوس زه ويريږم چې زما مالك به ما ته تکليف راکوي.

خوږ آقا، غمخوار مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير خفه شولو، فوراً ئې ترينه د وړو تيلئ واخستله او په خپلو مبارکو اوګو ئې کيښودله او اوئې فرمائيل: زما سره راځه! زه به ستا سفارش اوکړم، مکِّـی عربـی جانان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه غير مُسلمه کور ته اورسيدلو، دروازه ئې اوډبوله، غيرمُسلمه بهر را اووتلو چې سَيِّدُ الانبياء صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې په خپله دروازه کښې اوليدلو نو ډير زيات حيران شو او په حيرانتيا سره ئې عرض اوکړو: اے مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) تاسو خو ما کله هم په دې مَحَلَّه کښې نه ئې ليدلے، نن مو دلته څنګه تشريف راوړو؟ رَسُولِ اکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته د وينزې سفارش اوکړو خو هغه غير مُسلمه په بل سوچ کښې ورك وو، ناخاپه ئې اووئيل: اے مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د شپې تاسو ته معراج شوے دے؟ اوئې فرمائيل: آو! واقعي ما ته معراج شوے دے. غير مسلمه چې دا خبره څنګه واوريدله نو د څه وئيلو نه بغير دننه لاړو، لږ ساعت پس چې بيرته راغلو نو تورات شريف يا انجيلِ مُقَدَّس ئې په لاس کښې وو، هغه ډير زر د هغه

آسماني كتاب يو ځائے بيرته كړو او اوئې وئيل: دا اوګورئ! دلته د نبـیٔ آخِرُ الزمان صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نښه دا ليكلي شوي ده چې په كومه شپه هغوئي ته معراج اوشي، نو د هغه شپے په صبا له به هغوئي د يوے وينزې د ورو تيلئ په خپلو اُوګو مباركو اخستي وي او د يو غير مسلمه خوا ته به ورځي. دا ئې چې اُووئيل نو هغه غير مسلمه كلِمه اووئيله او په هغه ساعت ئې اسلام قبول كړو.[1]

| | | | |
|---|---|---|---|
| د الله عنايت | مرحبا | د معراج عظمت | مرحبا |
| د اقصیٰ شوكت | مرحبا | د نبيانو امامت | مرحبا |
| د آقا رِفعت | مرحبا | د آسمانونو ساحَت | مرحبا |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## پادري د معراج ګواهي وركړه

امام جلالُ الدين سيوطي شافعي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ نقل كوي: د هجرت مدينه نه پس چې كله سركارِ مدينه صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مختلف بادشاهانو ته خطونه اوليكل او د اسلام قبلولو دعوت ئې وركړو نو يو خط ئې هِرَقْل بادشاه ته هم اوليږلو، هِرَقْل په انجيلِ مقدس كښې د نبـیٔ آخِرُ الزمان صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوصاف لوستلي وو، چې كله هغه ته خط ميلاؤ شو نو هغه تحقيق كول غوښتل چې آيا دا هغه نبـي (صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) دے د چا اوصاف چې په انجيل كښې راغلي دي يا بل څوك دے؟ هغه بادشاه يو څو پوليس والؤ ته حكم وركړو چې: بازار ته لاړ شئ او د عربو څوک سوداګر اوګورئ او را ئې ولئ! پوليس بازار ته لاړل، اِتِّفَاقاً هغوئي ابوسفيان رَضِیَ اللہُ عَنْہ سره ميلاؤ شو.

---

[1]…معارج نبوت، جلد:2، صفحه:565خلاصةً۔

جَنَّتي صحابي حضرت ابوسُفيان رَضِیَ اللہُ عَنْہ د جَنَّتي صحابي حضرت اَمير مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہ او د اُمُّ المُؤمِنين حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ حَبيبه رَضِیَ اللہُ عَنْھَا والِد محترم دے. ابوسُفيان رَضِیَ اللہُ عَنْہ لا تر هغه وخته پورې اسلام نه وو قبول کړے، بيا ورستو د فتحِ مکه په شپه ئې اسلام قبول کړو، د دې نه مخکښې هغوئي د اسلام په سخت ترينو دُښمنانو کښې يو وو، پوليسو هغه د هِرَقْل بادشاه په دربار کښې حاضر کړو، بادشاه ترينه د نبیٔ آخِرُ الزمان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په باره کښې يو څو تپوسونه اوکړل، ولې چې ابوسُفيان رَضِیَ اللہُ عَنْہ لا تر هٰغه وخت مسلمان شوے نه وو، ځکه ئې دا غوښتل چې په څه طريقه د بادشاه په نظر کښې د رسولِ اکرَم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مَعَاذَ الله! عِزَّت کم کړے شي خو دروغ ئې نه شو وئيلے ځکه چې د باشاه په مخکښې دروغ وئيلو کښې د سر خطره وه. لِهٰذا ابوسُفيان د بادشاه د ټولو سوالونو جوابونه صحيح صحيح ورکړل. بادشاه چې د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوصاف واوريدل نو يقين ئې اوشو چې دا هم هٰغه آخري نبـي دے د چا د تشريف راوړلو بشارت چې حضرت عيسٰی عَلَیْہِ السَّلَام ورکړے وو، حضرت ابو سُفيان بيا هُم سوچ کولو چې په څه طريقه د بادشاه په نظر کښې د مُحَمَّد (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) عِزَّت کم کړے شي(مَعَاذَ الله)، بيا ناڅاپه د معراج واقعه ورياده شوه نو اوئې وئيل: اے بادشاه! يوه خبره ده، که دا مو واوريدله نو تاسو ته به معلومه شي چې مُحَمَّد (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) دروغ وائي. بادشاه اووئيل: وايه! هغه کومه خبره ده؟ ابو سُفيان اُووئيل: مُحَمَّد (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) وائي چې زه يو ځل د شپے شپے د مکے مکرمے نه مسجدِ اقصٰی ته لاړم او بيا په هُم هغه شپه کښې د سحر کيدلو نه مخکښې مخکښې د مسجدِ اقصٰی نه بيرته مکے مکرمے ته را اورسيدم، دغه وخت د بادشاه خوا ته يو پادري ناست وو، هغه اووئيل چې: بادشاه سلامت! زه د هغه شپے متعلق معلومات لرم.

بادشاه پادري ته په ډېره اوکتل او حيرانتيا ئې ترينه تپوس اوکړو: ته د هغه شپے په

باره كښې څه معلومات لرې؟ پادري اووئيل: جناب! زما معمول وو چې ما به هره شپه د مسجدِ اقصٰی دروازے بندولې نو هله به اُوده كيدم، يوه ورځ چې ما دروازے بندولې نو په يوه دروازه مې ډير زور اوكړو خو دروازه نه بنديدله، ما په جمات كښې موجود خلق د مدد د پاره را اوبلل، بيا مونږه ټولو زور اولګولو خو پته نشته چې هغه دروازه وه او كه غر وو، زمونږ د ټولو پورا كوشش باوُجود دروازے هډو معمولي حركت هم نه كولو، آخر دا چې مونږه تركانړ را اوبللو هغه هم پورا كوشش اوكړو خو دروازه د خپل ځائے نه بالكل نه خوزيدله، مونږ ټول ډير ستړي شو او دروازه مو دغسې بيرته پريښودله او خپلو كورونو ته لاړو، سحر چې زه جمات ته راغلم نو ډير حيران شوم چې د شپې دروازے هډو حركت نه كولو او اوس ډيره په آسانئ بيرته كيږي او بنديږي، يوه بله عجيبه خبره دا وه چې د دروازے خوا ته يو كانړي كښې سُورے وو او د څاروي د رسئ د تړلو نښې هم پرې موجودې وے، ما په بعضې آسماني كتابونو كښې لوستلې وو چې د **الله** پاك آخري نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به يوه شپه مسجدِ اقصٰی ته تشريف راوړي او د انبيائے كرامو امامت به كوي، د دروازے حيرانوونكي مُعامَله، په كانړي كښې سُورے او هلته د رسئ نښې ليدلو سره زه پوهه شوم چې د شپے دا دروازه **الله** پاك د هغه نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره بيرته پريښودې وه، يقيناً د شپے هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) مسجدِ اقصٰی ته تشريف راوړے وو او دلته ئې لمُونځ ادا كړے وو، ما دا خبره خپلو نورو ملګرو ته هُم اووئيله، لِهٰذا دا خبره كومه چې ابوسُفيان دروغ ګڼړي، زه او زما ملګري د دې خبرې د تصديق [يعني رښتيا كيدلو] ګواهي وركوو. [1]

**اللّٰهُ اكبر**!اے عاشقانِ رسول! معلومه شوه چې زمونږه آقا و مولٰی **مُحَمَّد** مصطفٰی صَلَّى

[1]…خصائص کبری، جلد:1، صفحه:282280خلاصةً۔

اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سفر معراج ذِکر په پخوانو آسماني کتابونو کښې هُم په تفصيل سره شوے دے او مَا شَآءَ اللّٰه د ماهِ نَبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شانِ صداقت اوګورئ! خپل خو خپل، پردي هم د هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د رښتيني کيدو ګواهي ورکوي. سُبْحٰنَ الله

| | | | |
|---|---|---|---|
| د الله عنايت | مرحبا | د معراج عظمت | مرحبا |
| د اقصٰى شوکت | مرحبا | د نبيانو امامت | مرحبا |
| د آقا رِفعت | مرحبا | د آسمانونو ساحَت | مرحبا |
| مرحبا يا مُصطَفٰى | مرحبا يا مُصطَفٰى | مرحبا يا مُصطَفٰى | مرحبا يا مُصطَفٰى |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مِعراج څه ته وائي؟

مِعراج د خوږ مصطفٰى جانِ رحمَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو سفر دے بلکه قرآنِ کريم د مکے مکرمے نه مسجدِ اقصٰى پورې تللو ته سيل وئيلے دے، ارشاد کيږي:

| | |
|---|---|
| سُبْحٰنَ الَّذِیْۤ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَیْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا (پارہ15، سورۃبنی اسرائیل:1) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : پاکي ده هغه ذات لره چې د شپے شپے ئې بوتلو خپل بنده، د مسجدِ حرام (خانهٔ کعبه) نه مسجدِ اقصٰى (بيت المُقَدَّس) پورې. |

په دې آيت کښې لفظِ "اَسرٰى" استعمال شوے دے کوم چې د "سير" [يعني سَيل] نه جوړ شوے دے. اَللّٰهُ اَکبَر! چې د سيل ئې دا عالَم دے نو د سفر د تيز رفتارئ به ئې څه عالَم وي؟ اعلٰى حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي:

شانِ خدا! نہ ساتھ دے، ان کے خرام کا وہ باز
سدرہ سے تا زمیں جسے نرم سی اِک اُڑان ہے

**د شعر مفهوم:** په قلاره قلاره او په ناز و ادا تللو ته خِرام وائي: اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د معراج په شپه خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په قلاره قلاره په ناز و ادا تللو ځنګه چې د واده ځلمے روان وي، خو د خُدائے شان اوګورئ! چې د دې باوُجود حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام چې په لږ ساعت کښې په يو ځو ځله وزرو خوزولو د سِدرَه نه زمکې ته او د زمکې نه سِدرَه ته رسي، د دومره تيز رفتاره پرواز کولو باوجود هغوئی د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په قلاره تللو ملګرتيا هُم اونکړے شوه، نو که حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل نوراني او نبَوي پرواز کولے نو بيا به ئې تيز رفتارئ څه عالَم وے؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| د الله عنايت | مرحبا | د مِعراج عظمت | مرحبا |
| د بُراق قسمت | مرحبا | د بُراق سُرعَت | مرحبا |
| د اَقصیٰ شوکت | مرحبا | د نبيانو امامت | مرحبا |
| د آقا رِفعت | مرحبا | د آسمان سياحت | مرحبا |
| مرحبا يا مُصطَفیٰ | مرحبا يا مُصطَفیٰ | مرحبا يا مُصطَفیٰ | مرحبا يا مُصطَفیٰ |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** معراج شريف ته عام طور مُعجزه وائي، بيشکه دا عظيمُ الشانه او عقل حيرانوونکي معجزه ده خو په حقيقت کښې معراج شريف يوه معجزه نه ده بلکه د ډيرو معجزو مجموعه ده. راځئ چې! په معراجِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې نورې معجزے هُم واورو او په خپلو زړونو کښې عشقِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور هُم زيات کړو:

## (2.1) وخت او فاصله راغونډيدل

د واقعه معراج په ضِمن کښې علمائے کرام دوه الفاظ استعمالوي: (1) **طَیِّ زمان** او (2) **طَیِّ مکان**.

د **طَـیُ زمان** معنٰی ده: د ډيرو کلونو موده په لږ ساعت کښې راغونډول او د **طَـیُ مکان** معنٰی ده: د ډيرو کلوميټرو فاصله کميدل او راغونډيدل.

د اَميرُ المُؤمِنين، حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْه کرامت ډير مشهور دے چې هغوئي به په اَس باندې سوريدلو وخت کښې په يو رِکاب کښې ښپه مبارکه کيښودله نو د **سُوْرَةُ الْفَاتِحَه** نه به ئې د قرآنِ کريم تلاوت شروع کړو او په اَس باندې سوَريدلو او په بل رِکاب کښې ښپه مبارکه ايښودلو پورې به ئې د **سُورۃُ النّاس** پورې پورا قرآنِ کريم ختم کړلو. (1) حالانکه په عامو حالاتو کښې يو حافظ که په صحيح مخارجو سره مسلسل د قرآنِ کريم ختم کوي نو پورا قرآنِ کريم لوستلو کښې به تقريباً د لسو نه دولسو ګنټو پورې وخت اولګي خو د اَميرُ المُؤمِنين، حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْه شان چې د لسو نه دولسو ګينټو والا کار به ئې په يو څو سيکنډو کښې کولو، دا د **طَـیُ زمان** (يعنې د وخت راغونډيدلو) مثال دے.

دغه شان د ملکهٔ بلقيس د تخت واقعه ده چې د ملکهٔ بلقيس تخت د حضرت سُليمان عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کښې د مُلکِ سَباء نه حاضرول وو، حضرت سُليمان عَلَيْهِ السَّلَام خپلو درباريانو ته اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| قَالَ يٰۤاَيُّهَا الْمَلَؤُا اَيُّكُمْ يَاْتِيْنِيْ بِعَرْشِهَا (پاره19، سورۃ النمل:38) | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان : اے درباريانو! په تاسو کښې څوك دے چې هغه د هغې تخت زما خوا ته راوړي؟ |

حضرت آصف بِن برخيا رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَيْه چې د حضرت سُليمان عَلَيْهِ السَّلَام وزير وو، هغوئي د اِسمِ اعظم عِلم لرلو، هغوئي عرض اوکړو:

---

[1]...شواہدِ نبوۃ، صفحه:280.

| | |
|---|---|
| اَنَا اٰتِيۡكَ بِهٖ قَبۡلَ اَنۡ يَّرۡتَدَّ اِلَيۡكَ طَرۡفُكَ ؕ (پاره19،سورة النمل:40) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: زه به ئې حاضر کړم د سترګې د يو رَپ نه هُم مخکښې. |

حضرت سُليمان عَلَيۡهِ السَّلَام چې اوکتل نو د سترګې د رَپ سره ئې تخت مخې ته موجود وو، په سوونو ميله لرې د ملکهٔ بلقيس دروند تخت د سترګو په رَپ کښې د حضرت سُليمان عَلَيۡهِ السَّلَام په خدمت کښې حاضرول، دا د طَیُّ مکان (يعنې د فاصلے راغونډولو) مثال دے.

په سفرِ معراج کښې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا دواړه معجزے يعنې طَیُّ زمان او طَیُّ مکان ښکاره شوې. اندازه اولګوئ! د سائنسي تحقيق مطابق په دې وخت کښې د ټولو نه تيز رفتار څيز "رڼړا" ده. رڼړا په يو سيکنډ کښې 3 لاکه کلوميټره فاصله طَے کوي او د لمَر رڼړا زمکې ته په 8 اعشارِيه 3 منټ کښې را رسي، يعنې د لمَر نه زمکې پورې 14 کروړ 94 لاك کلوميټر فاصله ده، بيا لمَر چې د وړومبني آسمان نه هم لاندې دے، اعلیٰ حضرت شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د زمکې نه د سِدرَةُ المُنۡتَهٰی پورې فاصله 50 زره کاله ده، د هغې نه وړاندې مُستَوٰي، د هغې نه پس الله ته معلومه ده، بيا د هغې نه اخوا د عرش 70 پردے دي، د هرې پردے نه بلې پردے پورې د 500 کالو فاصله ده، صرف دا 35 زره کاله جوړيږي، يعنې د 35 زرو کالو لاره دا، او د 50 زرو کالو لار د زمکې نه د سِدرَةُ المُنۡتَهٰی پورې، دا ټوله د 85 زره کاله فاصله شوه [خو ياد ساتئ چې 85 زره کلوميټره نه بلکه 85 زره کاله لار شوه]. بيا د سِدرَةُ المُنۡتَهٰی نه د عرش د پردو پورې څومره فاصله ده دا چا ته معلومه نه ده، او حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عرش نه وړاندې د کوم ځائے پورې تشريف وړے وو، د دې نه هُم څوك خبر نه دي، الغرض د معراج سروَر صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره په زرګونو کاله لرې تشريف يوړلو، بيا ئې بيرته

تشريف راوړلو او وخت څومره تير شوے وو؟ يو څو سيکنډه، بستره هم توده وه، او د دروازے زنځير هُم هغسې ړقيدلو. سُبۡحٰنَ الله

تفصیل سے کی سیر مگر اِس پہ یہ طُرّہ
اِک پل میں یہ طے ہو گیا رستہ شبِ معراج
زنجیر درِ پاک کی ہِلتی ہوئی پائی
اور گرم تھا وہ بستر شبِ معراج[1]

په تفصيل سره ئې اوکړو سيل خو ډيره حيراني ده
د سترګو په رپ تيره شوله لاره په شپه کښې د معراج
هُم هغسې زنځير هم ړقيدلو د دَرِ پاك
او توده هُم وه هم هغه بستره په شپه کښې د معراج

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د معراج شريف مُتَعَلِّق د وسوسو علاج

**شيخ شهابُ الدين سُهروردي** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي:د شيخ اِبنِ سکينه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يو مُريد وو، د هغه ذمه وارې وه چې د هرې جُمعے مبارکې په ورځ به ئې د صُوفيائے کرامو مُصَلّے جامع مسجد ته وړلې او خوروليې به ئې، بيا به ئې د جُمعے لمَانځه نه پس چې کله به صُوفيائے کرام د لمَانځه نه فارغه شو نو مُصَلّے به ئې بيرته آستانے ته راوړلې. د هغه مُريد په زړه کښې به د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سفرِ معراج مُتَعَلِّق وسوسے راتللې. يوه ورځ د جُمعے مبارکې ورځ وه، د جُمعے د لمَانځه نه پس د هغوئي کور ته يو څو ميلمانه راتلو والا وو، هغه د ميلمنو د پاره د بازار نه مهيان واخستل، کور ته ئې راوړل او کور

---

[1]...قبالۂ بخشش، صفحہ:126.

والؤ ته ئې ورکړل چې پاخه ئې کړي، او پخپله ئې د صُوفيائے کرامو مُصَلّے واخستې او جامع مسجد طرف ته روان شو، په لاره کښې د دريائے دجله په خوا تيريدلو، سوچ ئې اوکړو چې وخت لا ډير پاتې دے، غُسل به اوکړم، جامے ئې ويستلې او غاړې ته ئې کيښودې او په اوبو کښې ئې غوپه اووهله، چې سر ئې راپورته کړو، نه دريائے دجله وو، نه جامې وے، او ځائے هم بل وو، د پردے اهتمام ئې اوکړو او د درياب نه بهَر را اووتلو، د خلقو نه ئې پوښتنه اوکړه چې دا کوم ځائے دے؟ خلقو اُووئيل: دا مصر دے، ډير حيران شو، چې غوپه مې په بَغداد کښې وهلې وه او را اووتلم په مصر کښې؟ خير! آبادئ طرف ته ورغلو او د يو زرګر دُکان ته اورسيدلو، پخپله هم زرګر وو، لِهٰذا د هغه زرګر سره ئې ځان اشنا کړو، بيا ئې په هغه دُکان کښې کار کول شروع کړو، د دُکان مالك څه موده پس هغه ته خپله لور په نڪاح کړه او واده ئې اوشو، دې کس په مصر کښې ووه کاله تير کړل، په دې دوران کښې ئې درې بچي هُم پيدا شو، ووه کاله پس ئې يوه ورځ د غسل د پاره ئې په يو تالاب کښې غوپه اووهله، سر ئې چې راپورته کړو نو دريائے دجله وو او هُم هغه ځائے کوم ځائے ئې چې ووه کاله مخکښې د غسل د پاره غوپه وهلې وه، جامے ئې په هُم هغه ځائے پرتې دي، د صُوفيائے کرامو مُصَلّے هم موجودې دي، ډير زيات حيران شو چې آخر دا څه مُعامَله ده؟ زر ئې جامے واغوستلې او مُصَلّے ئې را واخستلې او جامع مسجد ته اورسيدلو، د جُمعے لمُونځ ئې ادا کړو، کور ته چې را اورسيدلو، نو بي بي ئې مهيان پاخه کړي دي ، لږ ساعت پس ئې دوستان هم راغلل، في الحال خاموشه پاتې شو او د دوستانو سره په دعوت کښې شريك شو، چې کله فارغ شو نو د خپل پير صاحب شيخ اِبنِ سکينه رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه په خدمت کښې حاضر شو او ټوله واقعه ئې ورته عرض کړه: پير صاحب ورته اوفرمائيل: آيا ستا په زړه کښې به څه وسوسه راتلله؟ هغه اووئيل: آؤ. جي. ما ته به د معراج مُتَعَلِّق وسوسے راتللې چې دومره

اوکړد سفر به په دومره لږ ساعت کښې خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څنګه کړے وي؟ شيخ ابنِ سکينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورته اوفرمائيل: دا په تا باندې د **اللّٰه** پاك مهرباني وه چې هغه ستا وسوسه لرې کړه او ستا د اِيمان حفاظت ئې اوکړو، اوس لاړ شه! او د مصر نه خپله ښځه او ماشومان راوله! [1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د شيخ ابنِ سکينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا مريد نيك سړے وو، د صُوفيائے کرامو خدمت به ئې کولو، هغوئي ته د پيرِ کامِل فيض نصيب وو، د معراج شريف مُتَعَلِّق چې ورته کومې وسوسے راتللې، **اللّٰه** پاك ورته په خپل کرم د قدرت نښې اوښودلې او د هغه وسوسے ئې ختمې کړې او د ګمراهۍ نه ئې بچ کړو، ګڼې ډير خلق په داسې وسوسو کښې د اخته کيدلو په وجه ګمراه شوي دي. نن صبا دا "اِيمان تباه کوونکے" مرض ورځ په ورځ زياتيږي، د ډيرو خلقو عادت وي چې د انبيائے کرامو معجزات او د اوليائے کرامو کرامات د خپل عقل په تله تلي، چې خپل عقل ئې پرې نه رسيږي نو بيا د معجزاتو او کراماتو غلط تاويلونه کوي يا ئې **مَعَاذَ الله!** بالکل انکار کوي. د **اللّٰه** پناه! د **اللّٰه** پناه! .... شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د فتاوٰى رضويه په حواله فرمائي: مُعجزاتو ته مطلقاً غلط وئيلو والا کافِر دے. [2]

**اللّٰه** پاك دِ مونږه د داسې کوږ عقل نه په خپل حفاظت کښې اوساتي او د داسې خلقو نه دِ مونږه په خپله پناه کښې اوساتي. که د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام معجزات وي او که د اوليائے کرامو کرامات وي، دا دواړه د **اللّٰه** پاك د قدر ت نښې دي چې د **اللّٰه** پاك په حکم د هغه د بندګانو نه ظاهريږي او **اللّٰه** پاك په هر څيز قادر دے، لِهٰذا د **اللّٰه** پاك

---

[1]...**تحفۂ معراج النبی**، **صفحه**:128.

[2]...**کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب**، **صفحه**:244

ورکړي شوي طاقت په ذريعه د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام نه معجزات ظاهرېږي او د اوليائے کرامو نه کرامات ظاهرېږي، زمونږه کار په هغې يقين لرل او په پټو سترګو ايمان راوړل دي، هم دا اصل عقلمندي ده.

صَـلُّـوۡا عَـلَی الۡـحَـبِـيۡـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د معراج په شپه د جَنَّت او جَهَنَّم مشاهدات

د سفرِ معراج يوه لويه حصه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مشاهدات دي. خوږ حبيب صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج په شپه د جنتونو سيل اوکړو، هلته ئې محلونه او باغونه اوليدل، دغه شان ئې جَهَنَّم هُم ملاحظه کړو او هلته ئې په ګنهګارانو باندې کيدونکي عذابونو هم اوليدل. الغرض کوم واقعات چې د قيامت نه پس کيدونکي وو، هغه ئې په دې شپه د سر په سترګو، عين د بيدارئ په حالت کښې اوليدل، **په احاديثو کښې دي:** ❀ د معراج په شپه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جَهَنَّم کښې څه داسې خلق اوليدل چې هغوئې مردار خوړلو، جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام عرض اوکړو: حُضُور! صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا هغه خلق دي چې د خلقو غوښې به ئې خوړلې (يعني غيبت به ئې کولو).[1] ❀ څه داسې زنانه او نارينه ئې اوليدل چې د خپلو سينو نه زوَړند وو، جبريل عرض اوکړو: دا مخامخ عيب لګوونکي او پشې شا [يعني وروستو] بدې بيانوونکي دي.[2] ❀ څه داسې خلق ئې اوليدل کوم چې د اور په خاخونو زوړند وو، عرض اوکړے شو: دا هغه دي چې خپل مور و پلار ته به ئې کنزلې کولې.[3] ❀ څه خلق ئې اوليدل چې د هغوئې خيټې د کوټو په شان غټې

---

1 ...مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:144، حديث:2366.

2 ...شعب الايمان، صفحه:309، حديث:6750.

3 ...الزواجر، جلد:2، صفحه:125.

غتې وے او په هغې کښې دننه ماران وو چې د بَهَر نه ښکاريدل، عرض اوکړے شو: حُضُورا دا سُود خواره دي.[1] ❀ څه داسې خلق ئې هم اوليدل چې د هغوئې شونډې د اوښانو د شونډو په شان (غټې غټې) وے او په هغوئې باندې څه کسان مقرر وو چې د هغوئې شونډې به ئې اُونيولې او د اور غټ غټ کانړي به ئې د هغوئې په خُلو کښې اچول، اووئيل شو: حُضُورا دا ناحقه د يتيمانو مال خوړلو والا دي.[2] ❀ په جَهَنَّم کښې څه داسې خلق وو چې د څاروو په شان څريدل، غني لرونکي واښه، د جَهَنَّم زقوم او د جَهَنَّم سره تاوده شوي کانړي ئې خوړل، عرض اوکړے شو: دا هغه دي چې د خپل مال نه به ئې زکوٰة نه ورکولو.[3]

تُوۡبُوۡا اِلَی الله اَسۡتَغۡفِرُ الله

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**اے عاشقانِ رسول!** مونږ له ويريدل پکار دي! افسوس غيبت کول، د مسلمان ورور پشي پشا [يعني د هغه په غير موجودګئ کښې د هغه] بد بيانول، مخامخ پرې عيب لګول، الزام لګول، مور و پلار خفه کول، د هغوئې په مخکښې نيغې نيغې خبرې کول، سُودي لَين دين کول، زکوٰة نه ورکول، د يتيمانو مال ناحقه خوړل، د ميراث په تقسيم کښې خيانت کول، خويندې ورونړه د ميراث نه محرومه کول، دا هغه ګناهونه دي چې اوس په مُعاشره کښې عام شوي دي، افسوس! دا کمزورے بدن او د دوزخ سخت عذاب....! په مونږ کښې څوك داسې شته دے چې دا عذاب به برداشت کړي؟ خو ډير افسوس! د دې هر څه نه خبر يُو او بيا هم ګناهونه کوو.

---

[1]...ابن ماجه، كتاب: تجارات، صفحه:363، حديث:2273ملتقطًا.
[2]...الشريعةُ للآجري، جلد:3، صفحه:1532، حديث:1027ملتقطًا.
[3]...الترغيب والترهيب، كتاب:صدقات، صفحه:263، حديث:15.

لږ سوچ اوکړئ! **الله** دِ نکړي که په ورځ د قیامت مونږه د ګناهونو په وجه اونیولے شو، او د دوزخ په خوفناکو عذابونو کښې اخته کړے شو نو زمونږ به څه کیږي...؟؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اوس زمونږ سره موقع ده، نور ناوخته کول نه دي پکار، فوراً د ګناهونو نه توبه کول او د نیکۍ کارونو طرف ته راغب کیدل ښه دي، په نن صبا نن صبا کولو را نه چرته وخت تیر نه شي، **الله** دِ نه کړي که په ګناهونو کولو کولو کښې د مرګ فرښته را اورسي او د توبه کولو نه مخکښې رانه روح واخلي نو بیا هیڅ هُم نه شي کیدے. **الله** دِ مونږ ته د رښتیني توبه کولو، ګناهونو نه د ځان ساتلو، او استقامت سره د نیکو کولو ژوند تیرولو توفیق را کړي.

کر لے توبہ رب کی رَحمت ہے بڑی
قبر میں ورنہ سزا ہو گی کڑی[1]

اوکړه توبه لوئي دے د الله رَحمت
ګنې قبر کښې به پیښ شي درته لوئي زَحمت

په احادیثو کښې دي چې: د معراج په شپه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عرش په نُور کښې پټ یو کس اولیدلو، اووئیل شو: دا هغه کس دے چې د ده په ژبه به هر وخت ذِکرِ اِلٰهي جاري وو، د ده زړه به په جُمات کښې لګیدلے وو، دا هیڅ کله د خپل مور و پلار د پاره د شرمندګۍ او بدۍ سبب نه دے جوړ شوے.[2] څه خلق ئې اولیدل، چې هغوئي به یوه ورځ فصل کرلو او بله ورځ به ئې کټ کولو، څنګه به ئې چې فصل کټ کړو، فصل به د وړومبي ورځې په شان بیا تر و تازه شو، جبریل عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: دا

---

1...وسائل بخشش، صفحہ:712-

2...موسوعة امام ابن ابي الدنيا، كتاب:اولياء، جلد:2، صفحه:415، حديث:95ملتقطاً-

د **الله** پاك په لاره كښې جِهاد كوونكي دي.[1] د حضرت جابِر رَضِیَ اللہُ عَنْہ نه روايت دے چې رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زه چې جنَّت ته لاړم نو د ابُوطلحه بي بي رُمَيصا (يعنې د حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللہُ عَنْہُ والده، حضرت اُمِّ سُلَيم) رَضِیَ اللہُ عَنْہَا خوا ته اورسيدم، ما د ښپو ښكالو [كشارے] واوريدلو نو تپوس مې اوكړو: دا څوك دے؟ اووئيل شو: دا بِلال رَضِیَ اللہُ عَنْہ دے. يو محل مې اوليدلو، د هغې په انګڼ كښې يوه بي بي وه، ما تپوس اوكړو: دا د چا دے؟ اووئيل شو: دا محل د عُمر بن خطّاب رَضِیَ اللہُ عَنْہ دے.[2]

## (3) سَفَرُ الْوَقت

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** تاسو د **اِمامُ الْاَنْبِيَاء، خَاتَمُ النَّبِيّنْ** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جنَّت او دوزخ مشاهداتو مُتَعَلِّق يو څو روايتونه واوريدل، راځئ چې په دې روايتونو باندې په يوه بله زاويه غور اوكړو، موجوده سائنس كښې يوه نظريه موندلے كيږي چې هغې ته **سَفَرُ الْوَقت** وائي. د **سَفَرُ الْوَقت** مطلب دے "**د وخت نه ټوپ وهل**" مثلاً اوس سَن 2021 دے نو مستقبل طرف ته ټوپ وهلو يعني فوراً 2025 ته د رسيدلو يا ماضي طرف ته ټوپ وهلو يعني 2015 ته رسيدلو ته **سَفَرُ الْوَقت** وائي. تقريباً د دريو صدو نه سائنسدان په دې تحيقيق كوي، د 1971ء نه واخله تر دې وخته پورې ئې په دې مختلفے تجربے هُم كړې دي بلكه په يورپ كښې د "ټائم مشين" په نوم په دې موضوع يو كتاب هم ليكلے شوے دے. دا يوه مفروضه ده، تر اوسه پورې سائنسدانانو ته په دې مُعامَله كښې هيڅ كاميابي نه ده حاصله شوې.

اوس په دې تناظر كښې د شبِ معراج په مشاهداتو غور اوكړئ! **مُفسّرِ قرآن،** مفتي

---

[1]...مجمع الزوائد، كتاب الايمان، باب منه فى الاسراء، جلد:1، صفحه:91، حديث:235ملتقطًا۔

[2]...بخاری، كتاب فضائل اصحاب النبى، باب مناقب عمر بن خطاب، صفحه:933، حديث:3679۔

احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا واقعات کوم چې حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج په شپه ليدلي دي، دا ټول لا واقع شوي نه دي بلکه د قيامت نه پس به واقع کيږي. جَنَّت او جَهَنَّم ته داخليدل به د قيامت نه پس کيږي، د جنَّت دروازه به مالكِ جَنَّت، صاحبِ کوثر صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيرته کوي، د ټولو نه اوَّل به خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جَنَّت ته داخليږی، د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْه د ښپو کشارے خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جَنَّت کښې واوريدلو، او بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لا وفات شوے هم نه وو، او د معراج په شپه بلال رَضِيَ اللهُ عَنْه په خپل ظاهري ژوند سره په مکه مکرمه کښې موجود وو، حضرت اُمِّ سُلَيم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا چې خوږ حبيب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جَنَّت کښې ليدلي وه، دا هم په خپل ظاهري ژوند سره په خپل کور کښې موجوده وه، د دوئي جَنَّت ته داخليدل به د قيامت نه پس کيږي،[1] اَللّٰهُ اَكْبَر! 1442 کاله د سفرِ معراج تير شو، اوس د قيامت په راتلو کښې معلومه نه ده چې څو صدئ پاتې دي، بيا به د قيامت 50 زره کاله ورځ وي، د هغې نه پس به جنَّتيان جنَّت ته ځي، جَهَنَّميان به دوزخ ته ځي، يعني زرګاؤ کلونه پس کيدونکي واقعات حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج په شپه په خپلو سترګو مبارکو اوليدل، په خپلو غوږونو مبارکو ئې واوريدل، الله! الله! سائنسدانانو مسلسل درې صدئ کوششونه اوکړل، د سَفْرُ الْوَقت يعنې د وخت نه ټوپ وهلو د پاره ئې تجربے اوکړې خو تر اوسه پورې 5 منټه وړاندې يا 5 منټه وروسته تلو کښې نه دي کامياب شوي، خو زمونږ د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی شان اوګورئ! د نن نه 1442 کاله مخکښې ئې زرګاؤ کاله پس کيدونکي واقعات د سر په سترګو، عين د بيدارئ په حالت کښې اوليدل، په خپلو غوږونو ئې واوريدل او بخپله هلته موجود وو، بيا هلته پاتې نه شو، زرګاؤ کلونه شا ته بيرته ئې

---

[1] ...مرآة المناجيح، جلد:8، صفحه:362خلاصةً۔

مکے مکرمے ته تشريف هم راوړلو. سُبْحٰنَ الله! سُبْحٰنَ الله!

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اَوج | پانا | میرے | حُضُور | کا | ہے |
| عَرش | جانا | میرے | حُضُور | کا | ہے |
| عَرش | سے | بھی | پَرے | وہ | ہَو آئے |
| آنا | جانا | میرے | حُضور | کا | ہے |
| حَق | تَعَالیٰ | کا | جلوہ | راتوں | رات |
| دیکھ | آنا | میرے | حُضُور | کا | ہے |

## (5) بَيْتُ الْمُقَدَّسْ په مکه مکرمه کښې کېښودے شو

د شبِ معراج په سحر چې کله د **الله** پاك خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مکے والؤ ته د سفرِ معراج خبر ورکړو نو کافرو دا عظِيمُ الشَّانه معجزه په خپل عقل تلل شروع کړه او بيا ئې خندا شروع کړه، مکے والؤ ته پته وه چې **مُحَمَّد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **بَيْتُ الْمُقَدَّس** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دے ليدلے، نو هغوئي د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د **بَيْتُ الْمُقَدَّس** مُتَعَلِّق تپوسونه شروع کړل، يو کس تپوس اوکړو، د هغې څو دروازے دي؟ چا اووئيل: د **بَيْتُ الْمُقَدَّس** رقبه څومره ده؟ چا تپوس اوکړو: د **بَيْتُ الْمُقَدَّس** گنبد څومره اوچت دے؟[(1)]

اَللّٰهُ اَکبَر! څنګه فضول سوالونه دي خليفهٔ اعلیٰ حضرت علامه ظفرُ الدِّين بِهاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: عامه خبره ده، چې سړے يو ناشنا کور ته لاړ شي نو د هغه حال مختلف وي، دا د انجينير حال دے چې کله هغه يو کور ته ورشي نو د هغه نظر په دې خبرو وي، سوچ کوي چې عمارت څومره اوچت دے؟ ديوالونه ئې څومره پيړ دي؟ د

---

[1] ...تاريخ خميس، رکن ثانی، جلد:1، صفحه:582۔

عمارت رقبه څومره ده؟ دروازے ئې څو دي؟ کوم کس چې د بل يو مقصد د پاره تلے وي، د هغه تَوجُّه هيڅ کله دې څيزونو طرف ته نه وي، په دې شپه په سرکارِ ذِي وقار، مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې خاص تجلّي اِلٰهي وه، په دې خاص کيفيت کښې او په عامو حالاتو کښې هم د **بَيْتُ المُقَدَّس** دروازے شميرل، په رقبه غور کول، د ګنبد په اوچتوالي سوچ کول د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شانِ نَبُوَّت خلاف وو، په حديث شريف کښې دي: چې کله دې خلقو د **بَيْتُ المُقَدَّس** په باره کښې تپوسونه اوکړل نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سخت پريشانه شو، په دې کښې حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام **بَيْتُ المُقَدَّس** ځان سره راخستے او حاضر شو، بيا څه وو، کُفّارو به چې څه څه تپوس کولو، نبيء اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د يو يو څيز په باره کښې خبر ورکولو، چې کله خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عمارت نښې، د جمات نقشه وغيره ټول هر څه بيان کړل نو خلقو اووئيل: تر څو پورې چې د نښو تَعَلُّق دے، قَسم په خدائے! هغه بالکل صحيح دي.[(1)]

ممکن ہی نہیں عقلِ دو عالم کی رسائی
ایسا دیا اللہ نے رُتبہ شبِ معراج[(2)]

**د شعر مفهوم:** يعني الله پاک چې د معراج په شپه خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته کومه مرتبه ورکړې ده، هغې ته د دواړو جهانو عقلونه هُم نه شي رسيدلے۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!	صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]...تحفۂ معراج النبی، صفحه:335334۔

[2]...قبالۂ بخشش، صفحہ:125۔

## (6) لمَر اُودريدلو

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** خوږ نبــي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **بَيْتُ المُقَدَّس** ټولې نښې بيان کړې، د دې باوُجود کافران معراج شريف منلو ته تيار نه شو. بيا هغوئي د يوې بلې نښې تپوس اوکړو، اوئې وئيل: اے **مُحَمَّد** (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)! په دې لاره باندې زمونږ قافلے تلې دي، چې تاسو **بَيْتُ المُقَدَّس** ته تلي وئ نو يقيناً په دې لاره به مو قافلے هم ليدلي وي، مونږ ته د قافلو په باره کښې خبر را کړئ.

نبــي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آو. ما يوه قافله د **رَوحا** په مقام کښې اوليدله، د هغوئي اوښ ورك شوے وو، هغوئي د اوښ په لټون کښې وو، زه د هغوئي د پړاؤ په ځائے کښې کوز شوم، د هغوئي د پيالئ نه مې اوبه اوڅښلې او پيالئ مې په هغه ځائے هغه شان کيښودله،[1] په يو روايت کښې دي: ما هغوئي ته سلام اوکړو، هغوئي اووئيل: دا خو د **مُحَمَّد** (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) آواز دے.[2] خوږ نبــي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور اوفرمائيل: دا قافله به د چار شنبے يعنې شروع په ورځ دلته را اورسي، د دې خبرو تپوس د هغوئي نه پخپله اوکړئ.

يو کس تپوس اوکړو: زمونږ فلانکئ قافله هم په دې لاره ده، آيا تاسو هغه ليدلي ده؟ اوئې فرمائيل: زه د هغه قافلے په خوا نِزدې تيريدلم نو زما د بُراق د تيز رفتارئ نه د هغوئي يو اُوښ اُويَريدو نو اُوتريدو [يعني منډه ئې کړه]، د هغه اوښ نه يو کس اوليدلو او لاس ئې مات شو، دا قافله به په فلانکئ ورځ د غرمے په وخت دلته را اورسي، تاسو پخپله د هغوئي نه تپوس اوکړئ.

---

[1]...تاريخ خميس، رکن ثانی، جلد:1، صفحه:582۔

[2]...مسند بزار، جلد:8، صفحه:410، حديث:3484۔

بيا ئې اوفرمائيل: يوه قافله ما په مقامِ تنعيم كښې اوليدله، د هغې نه مخكښې يو د خړ رنګ اوښ وو، په هغې باندې د غلے دوه د كرښو والا بورئ بار وې، او يو حبشي په هغه[اوښ] سور دے، دا قافله به په فلانكئ ورځ د لمَر راختلو پورې دلته را اورسي.

بيا كافرو انتظار شروع كړو، چې كله هغه ورځ راغله، چې د هغې په صبا د لمَر راختلو په وخت يوه قافله رارسيدل وو، هغه ورځ د لمَر راختلو نه مخكښې كافران مشرق طرف ته په يو غر كښيناستل او د لمَر راختلو انتظار ئې شروع كړو او د كوم اړخ نه چې قافله راتله، څه خلق هغه طرف ته په غر كښيناستل، څنګه چې لمَر را اوختلو، مشرقي غر باندې ناست كس په اوچت آواز اووئيل: **هٰذِهِ الشَّمْسُ قَدْ طَلَعَتْ** دغې دے لمَر را اوختلو. د دويم طرف نه آواز راغلو: **هٰذِهِ الْعِيْرُ قَدْ اَقْبَلَتْ** دغه ده قافله هم راغله. چې كله قافله نِزدې راغله نو خلقو اوليدل: واقعي د هغه قافلے نه مخكښې يو د خړ رنګ اوښ وو، په هغې دوه د كرښو والا بوجئ بار وې، كومه نښه چې صادق و امين نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيان كړي وه، هغه هم هغسې پوره شوه. (1)

بيا د غرمے په وخت چې د كومې قافلے رارسيدل وو، د هغې انتظار ئې شروع كړو، هغه قافله عين د غرمے په وخت مكے مكرمے ته راداخله شوه، خلق قافلے ته نزدې جمع شو، چې اوئې ليدل نو واقعي په هغوئي كښې د يو كس لاس مات شوے وو، دوئي ترينه تپوس اوكړو نو هغه كس اووئيل: په ځنګل كښې د بريښنا په شان تيز يو څيز زمونږ په خوا كښې نزدې تير شو، د هغې په وجه زمونږ يو اوښ اوتريدلو او منډه

---

[1]... تاريخ خميس، ركن ثاني، جلد:1، صفحه:582۔

ئې کړه نو زه د اوښ نه پریوتلم او لاس مې مات شو.[1]

بیا د دریمې قافلے انتظار وو، د نبـي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمان مطابق د هغې قافلے رارسیدل د لمَر پریوتلو په وخت کښې وو خو هغه قافله په څه وجه په لاره کښې حصاره شوي وه، هلته کافرانو لمَر ته کتل، لـمر بالکل پریوتو ته نزدے وو او د قافلے لا هیڅ پته نه وه، دغه وخت نبـي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه نو لمَر اودریدلو، چې څنګه قافله په مکه مکرمه کښې داخله شوه، نو لمَر هم پریوتلو.[2]

تَبَارَکَ اللہ حکومت اُن کی، زمیں تو کیا ہے آسماں پر
کِیا اشارے سے چاند ٹکڑے، چھپا ہُوا خُور بُلا رہے ہیں[3]

ه: **اللّٰه** پاک حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته هغه برکتونه ورکړي دي چې په زمکه څه، چې په آسمانونو هُم د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکومت دے، په اشاره ئې سپوږمئ هُم دوه ټُکړے کړه او پریوتلے لـمر ئې هُم بیرته را اوګرځولو۔

## د شبِ معراج فضائل

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** تاسو اولیدل، "معراج شریف" د خوږ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څنګه عقل حیرانوونکـي معجزه ده، نن هغه د برکت نه ډکه شپه ده، په دې شپه زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا عظیمُ الشانه معجزه عطا شوي وه، د 27 رجب په فضائلو باندې **درې فرامینِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورئ:

(1) د حضرت ابوهُریره رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روایت دے: څوك چې په 27 رجب روژه اونیسي،

---

1 ...مسندبزار، جلد:8، صفحه:411، حدیث:3484۔

2 ...تاریخ خمیس، رکن ثانی، جلد:1، صفحه:583۔

3 ...دیوانِ سالِک، صفحه:14

الله د هغه د پاره د 60 مياشتو د روژو ثواب ليكي.

(2) د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہ نه روايت دے، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په رجب كښې يوه ورځ او شپه ده څوك چې په دې ورځ روژه اونيسي او د شپې قيام (يعني عبادت) اوكړي نو لكه هغه چې د 100 كالو روژے اونيولې، د 100 كالو شب بيداري ئې اوكړه او دا د رجب 27 تاريخ دے.

(3) د شُعَبُ الايمان روايت دے: په رجب كښې يوه شپه ده چې په هغې كښې نيك عمل كوونكي ته د 100 كالو د نيكو ثواب ملاويږي او دا د رجب ووه ويشتمهَ شپه ده، څوك چې په دې شپه 12 ركعته داسې ادا كړي چې په هر ركعت كښې يو سورت او په هرو دوو ركعتو باندې **اَلتَّحِيَّات** اولولي او 12 ركعته پورا كيدو باندې سلام اوګرځوي، د هغې نه پس 100 ځله دا اولولي: **سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ**، بيا 100 ځله **اِسْتِغْفَار** (مثلاً **اَسْتَغْفِرُ اللّٰه**، **اَسْتَغْفِرُ اللّٰه**) اولولي، او 100 ځله دُرود شريف اولوَلي او د خپل دُنيا او آخرت د پاره چې د كوم خيز دُعا اوغواړي او سحر له روژه اونيسي نو **الله** پاك به د هغه ټولې دُعاګانې قبول كړي، سوا د هغې دُعا نه، كومه چې د ګناه د پاره وي.

## دولسو ديني كارونو كښې يو ديني كار "علاقائي دوره"

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** نيک لمونځ ګزاره جوړيدلو د پاره او په خپل زړه كښې د عشقِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شمع روښانه كولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول كښې شامل شئ **اِنْ شَآءَ اللّٰه** د دې بَرَكتونه به پخپله اُووينئ. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي** په ټوله دُنيا كښې د دين كار كولو كښې كور په كور، كُوځه په كُوځه د سُنّتو عام كولو د پاره مصروفِ عمل دے، تاسو هُم په دې نيک كار كښې دعوتِ اسلامي سره مرَسته اوكړئ، د دعوتِ اسلامي 12 ديني كارونو كښې عَمَلًا حِصَّه واخلئ او د نيكئ د دعوت عام كولو

په ذريعه ډير ډير ثوابونه اوګټئ- د دعوتِ اسلامي 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار دے " ". په هفته كښې دوه ورځې يا په هفته كښې يوه ورځ د هر جمات په خوا و شا كښې كور كور، دُكان دُكان ته تلل او په كورونو او دُكانونو كښې موجودو او په لاره كښې ولاړو او تلونكو راتلونكو خلقو ته د نيكئ دعوت وركول وي، دې ته علاقائي دوره وائي.

مونږ له پكار دي چې مونږه هُم عاشقانِ رسول سره په علاقائي دوره كښې شركت كوو، اِنْ شَآءَ الله! د نيكئ دعوت وركولو او د علمِ دين خورولو ثواب به راته ميلاويږي.
د نيكئ د دعوت ثواب څه دے؟ راځئ چې واورو ئې: د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: آيا زه تاسو ته د داسې خلقو په باره كښې اونه وايم چې هغوئي نه نبي دي، نه شهيد، بيا به هم په ورځ د قيامت انبيائے كرام او شُهداء د هغوئي په مقام ليدلو باندې خوشحاليږي، هغه خلق به د نُور په منبرونو اوچت وي، دا هغه خلق دي كوم چې د **الله** پاك بندګان د هغه عَزَّوَجَلَّ محبوب (يعني ګران) جوړوي او هغوئي په زمكه باندې ګرځي نصيحتونه كوي، عرض اوكړے شو: هغوئي څنګه خلق د **الله** پاك محبوب جوړوي؟ اوئې فرمائيل: هغوئي خلقو ته د **الله** پاک د خوښو كړو خبرو حكم كوي او د بدو خبرو نه ئې منع كوي، پس چې كله خلق د هغوئي اطاعت اوكړي نو **الله** پاك به هغوئي خپل محبوب جوړ كړي.

## غير مسلمه مسلمان شو

د پنجاب د يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي بيان دے، يوه ورځ د كراچئ نه يوه مدني قافله زمونږ خوا ته راغلې وه، د مدني قافلے والؤ سره ما هم په علاقائي دوره كښې شركت اوكړو، مونږه د يو درزي د دُكان خوا ته بهَر خلق راجمع كړل او د نيكئ دعوت مو وركړو، چې كله بيان ختم شو نو د هغه دُكان يو ځلمي نوكر اووئيل: زه غيرمسلمه يم.

ستاسو د نیکۍ دعوت زما په زړه ډیر اثر اوکړو، مهرباني اوکړئ ما په اسلام کښې داخل کړئ، بیا اَلْحَمْدُ لِلّٰه هغه کلمه اولوستله او مسلمان شو.

مقبول جہاں بھر میں، ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے ربِّ غفّار! مدینے کا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## "القرآن مع تفسیر" ایپلي کیشن

**اے عاشقانِ رسول!** نن صبا د ټیکنالوجي دور دے، تقریبا هر کس سره اینډرائډ یا آئي فون موبائل دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه دعوتِ اسلامي د موبائل په ذریعه هم د علمِ دین زده کولو او د نیکۍ دعوت عام کولو موقعې ورکوي. مثلاً ❁ د دعوتِ اسلامي آئي. ټـي ډیپارټمنټ له طرفه یو موبائل ایپلي کیشن د Quran with Tafseer (القرآن مع تفسیر) جاري شوے دے. ❁ دا ایپلي کیشن Android او IOS په دواړه ډیوائسونه په ډیره آسانه ډاؤن لوډ کولے او استعمالولے شئ ❁. په دې ایپلي کیشن کښې ❁ مکمل قرآنِ کریم ❁ د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه لیکلي شوي ترجمهٔ کنزُالایمان ❁ د جدید دور د تقاضو مطابق ډیره آسانه ترجمه، ترجمهٔ کنزُ العِرفان او ❁ په آسان انداز کښې لیکلے شوے د اردو د ټولو نه جدید تفسیر "تفسیر صِراطُ الْجِنان" شامل دے، تاسو که هر ځائے ئې، د دې ایپلي کیشن په مدد قرآنِ کریم د ترجمه و تفسیر سره لوستلے شئ او ځان پرې پوهه کولے شئ. او د دې سره سره قرآني آیات، ترجمه او تفسیر د واټس ایپ، فیس بُك وغیره په ذریعه خپلو دوستانو ته شیئر کولے هم شئ، تاسو دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پخپله هُم علمِ دین زده کړئ او نورو ته ئې هم اورسوئ او د نیکۍ دعوت عام کړئ.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلوو. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد

فرمائي: "چا چې زما سُنّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي."[(1)]

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا　　جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا　　جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## د قرآنِ کريم تلاوت کول سُنَّت دي

**دوه فرامينِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1) زما د اُمَّت افضل عبادت تلاوتِ قرآن دے.[(2)] (2) څوك چې د شپې 200 آيتونه تلاوت کړي، د هغه نوم به په عبادت ګزارو کښې ليکلے کيږي، او څوك چې 400 آيتونه تلاوت کړي د هغه د پاره به يو قِنطار اجر ليکلے کيږي، يو قِنطار د 120 قيراط برابر دے او يو قيراط د اُحُد غر همره دے.[(3)]

**اے عاشقانِ رَسُول!!** تلاوت کول سُنَّت دي، ❀ زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به کثرت سره د قرآنِ کريم تلاوت کولو، ❀ حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځيز هم خوږ نبـي د تلاوتِ قرآن نه نه شو منع کولے. ❀ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د شپې په لمَانځه کښې کله کله پورا سُورةُ البَقَرَة او سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰن تلاوت کولو ❀ هره شپه به ئې د **سُوْرَۃ سَجْدَہ، سُوْرَۃ مُلْك، سُوْرَۃ بَنِیْ اِسْرَائِيل، سُوْرَۃ زُمَر، سُوْرَۃ کَافِرُوْن، سُوْرَۃ فَلَق** اور **سُوْرَۃ وَالنَّاس** تلاوت کولو بيا به اوده کيدلو.

---

1... ابنِ عساکر ج۹ص ۳٤۳

2... شُعَبُ الْاِيمَان، باب: تعظیم قرآن، جلد:2، صفحہ:347، حدیث:2004-

3... شُعَبُ الْاِيمَان، جلد:2، صفحہ:401، حدیث:2197-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!		صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه

---

1 . . . افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

**صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ**

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ**

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

1...القول البديع، الباب الثاني، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللّٰه عَنۡهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[4] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغيب والترہيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

4... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد